
مثبت او منفي عددونه

| | |
|---|---|
| درجه | دريمه درجه (عمر: ۱۲ څخه تر ۱۴ کلونو پورې) |
| اړينې سرچينې | د قطو يو ډيک چې انځورونه، جوکرې او ايکې ورڅخه لرې شوې وي |
| د سرچينو لپاره بديلې لارې | د لاندې لارښوونو په پام کې نيولو سره لوبغاړي کولی شي خپل د قطو ډيکونه جوړ کړي.<br>1. يو کاغذ را واخلئ او د خپل لاس د ورغوي په اندازه يو مستطيل شکل پرې رسم کړئ او بيا يې پرې کړئ.<br>2. د کارټ په يوه خوا د ۲ شميره وليکئ او په بلې خوا يې ۲ زړونه د يوې سرې رنګې (يا کوم بل رنګ) په واسطه رسم کړئ.<br>3. دا عمليه له ۲ څخه تر ۱۰ شميرو پورې تکرار کړئ. په هر ځل کې د شميرې په اندازه بايد زړونه رسم کړئ. (مثلا، د ۳ شميرې لپاره ۳ زړونه رسم کړئ او داسې نور)<br>4. کله چې له ۲ څخه تر ۱۰ پورې د کارټونو سيټ پوره شو، بيا همدغه عمليه د الماسو شکلونو لپاره هم ترسره کړئ. (تاسو کولی شی سور رنګ پنسل او يا هم هغه رنګ چې تاسو د زړه لپاره کارولی وه، د الماسو لپاره يې هم وکاروی)، همدا راز قره، او پشه هم جوړې کړئ.<br>5. کله چې دا عمليه بشپړه شوه، تاسو به د ۲ څخه تر ۱۰ شميرې د کارټونو ۴ سيټونه ولرى چې په ټوله کې به تاسو سره ۳۶ کارټه واوسي چې هر يو سيټ به يې مختلف شکلونه ولري. قره او زړونه بايد په يو رنګ کې وي او پشه او خشت بايد په بل رنګ کې واوسي.<br>6. تاسو کولی شی د لا معلوماتو لپاره د انځورونو برخه وګورئ. |
| د پوښښ موضوع | شميرې او عمليې |
| په نخښه شوي مهارتونه | د منفي او مثبتو عددونو تمرين کول |
| الهام اخيستنه | Education.com |
| اړين وخت | د لوبې لپاره ۱۵ دقيقې<br>د قطو د جوړولو لپاره ۳۰ دقيقې |
| مخکينيو درسونو ته اړتيا | د منفي او مثبتو شميرو په اړه پوهاوی<br>د صحيح عددونو جمع او تفريق |
| ملاتړ ته اړتيا | متوسطه ملاتړ |

<u>د لوبې قوانین:</u>

| | |
|---|---|
| موخه | تر ټولو لوی د قطو شمیر ترلاسه کول کله چې ټولو لوبغاړو خپلې قطې خلاصې کړې |
| قوانین | ۱. کله چې یو لوبغاړی یو ناسم ځواب ووایي، هغه باید تر هغې منتظر پاتې شي ترڅو چې ټول نور لوبغاړي خپل ځوابونه ووایي ترڅو بل ځواب وړاندې کړي.<br><br>۲. ټول لوبغاړي باید خپل کارتونه په یو وخت کې په بل مخ کړي.<br>۳. سره کارتونه (زړونه او الماسونه) منفي شمیرې دي او تور کارتونه (خشت او پښه) مثبتې شمیرې دي.<br>۴. په دې لوبه کې یوازې له ۳ څخه تر ۴ لوبغاړي کولی شي لوبه ترسره کړي. |
| مرحلې | ۱. هر لوبغاړي ته باید په مساوي شکل کارتونه ورکړل شي. (که چیرته د لوبغاړو شمیر ۳ وي، هر لوبغاړی باید ۱۲ کارتونه ولري او که چیرته د لوبغاړو شمیر ۴ نفره وي، باید هر لوبغاړي ته ۹ کارتونه ورکړل شي.)<br>۲. ورکړل شوي کارتونه باید د لوبغاړو مخې ته په چپه شکل کېښودل شي. |

| | |
|---|---|
| | 3. لوبغاړي باید په یوه دایره کې سره کښیني او د ۳ شمیرلو څخه وروسته به خپل کارتونه په مخ کړي.<br>4. هر هغه لوبغاړی چې تر ټولو د مخه د ټولو کارتونو حاصل جمع ووایي، هغه به د همدغه پړاو لپاره خپل ټول کارتونه له ځان سره وساتي. د بېلګې په توګه، په یوه ۳ نفره لوبه کې که چیرته لومړني کارتونه چې ښکاره شوي وي ۳ سره، ۲ تور او ۹ تور وي، هغه لوبغاړي چې د اول ځل لپاره د ۸ شمیره ووایي (۹ + ۲ -۳) هغه کولی شي خپل ۳ ورکړل شوي کارتونه په یوه جلا قطار کې کېږدي.<br>5. کله چې ټولو زده کوونکو د لومړنیو کارتونو شمیرې بشپړې کړې، لوبه پای ته رسیږي. د لوبغاړو شمیر ته په کتو سره، دا لوبه باید ۹ یا ۱۲ پړاوه واوسي.<br>6. هر هغه لوبغاړی چې په پای کې ترټولو ډیر کارتونه په بل قطار کې له ځانه سره ولري، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |
| انځورونه | د کارتونو (قطو) یو ډیک:<br> |
| په لوبه کې بدلونونه | 1. تاسو کولی شی دا لوبه د جمع د عملیې پر ځای د ضرب عملیې لپاره وکاروئ. |
| ننګونه | 1. تاسو کولی شی دا لوبه د صحیحو اعدادو د تقسیم عملیې لپاره وکاروی. |

| | |
|---|---|
| ساده کوونه | 1. دا لوبه له ۱۲ لوبغاړو سره ترسره کړئ؛ په دې شکل سره باید عملیې فقط له دوه عددونو سره ترسره شي. |